## ګډو ځواکونه هره ورځ له بې‌ګناه مسلمانانو درنې قرباني اخلي




خالد ایثار

په تېرو څلورو ورځو کې ګډو ځواکونو په مختلفو ولایتونو کې په هوایي عملیاتو کې له بې‌ګناه ملکي وګړو درنې قربانۍ واخیستې.

د پروان ولایت په جبل السراج ولسوالۍ کې د هوایي قواوو په ملاتړ ځانګړو ځواکونو د ملکي کسانو کورونه بمبار کړل او درې ملکیان یې ووژل او څلور نور یې ټپیان کړل، چې یو ماشوم او یوه ښځه هم پکې وو. د پروان د والي ویاند وحید شهکار هم تایید کړه، چې د پېښې ټول قربانیان ملکیان وو.

له دې پېښې سره هممهاله د ننګرهار په خوګیاڼو ولسوالۍ کې د «صفر دو» ځانګړو افغان ځواکونو په عملیاتو کې څلور ملکیان ووژل شول. یوې حکومتي سرچینې رسنیو ته ویلي، چې په وژل شوو کې یو کس معلم، یو متعلم، دوه نور بزګران دي او همدارنګه یو کس پکې ټپي شوی او درې کسان یې ژوندي ورسره وړي.

دغه راز په غزني کې هم د هوایي بمباریو او جګړې له امله سلګونه کورنۍ بېځایه شوې. د ویسا ورځپاڼې د راپور پر اساس د غزني قومي مشران وایي، چې یوازې د غزني له ګیلان ولسوالۍ څخه د جګړو او هوایي بمباریو له امله ۱۲ سوه کورنۍ بې ځایه شوې.

همدارنګه ورمه ورځ (د لېندۍ ۴مه) د هلمند په نادعلي ولسوالۍ کې د بهرنیو ځواکونو په هوایي برید کې د یوې کورنۍ ۱۶ غړو ته مرګژوبله اوښتې. د هلمند ځایي چارواکي وایي چې په نادعلي کې د بهرنیو ځواکونو د هوایي

برید له امله د یوې کورنۍ دوه غړي وژل شوي او ۱٤ نور ټپيان دي. په دې پېښه کې يو ماشوم او يو سړی وژل شوي او د ښځو او ماشومانو په ګډون ۱٤ تنه نور پکې ټپيان شوي دي.

په دې وروستيو کې اشغالګرو بهرنيو ځواکونو او د دوی پر روحيه روزل شوو يو شمېر افغان ځواکونو ګډو عملياتو ته زور ورکړی، د سلګونو بې‌ګناه خلکو ژوند يې واخيست او لا يې اخلي، ښځې، ماشومان او سپين ږېري يې شهيدان کړل، کورنۍ يې ختمې او له خاورو سره خاورې کړې، ودونه يې بمبار کړل او له هر ډول وحشت او جنايت څخه يې مخ وانه ړاوه.

پر دې سربېره امريکا د روان ميلادي کال په لومړيو نهو مياشتو کې پر دې خاوره ۵۲۱۳ بمونه غورځولي او خلک يې د تش په نامه سولې په تبليغاتو بوخت ساتلي دي.